بسم الله الرحمن الرحیم

# راځئ ژوند زده کړو

حبیب الله حبیبي

## د کتاب ځانګړنې:


نوم: **راځئ ژوند زده کړو**

لیکوال: **حبیب الله حبیبي**

د چاپ شمېر: **۱۰۰ ټوکه**

د چاپ کال: **۲۰۲۱ - ۱۳۹۹**

پښتۍ او ډیزاین: **صابر ګرافیکس**

د چاپ وار: **لومړی**

چاپ: **حسین احمد چاپخان**

## فهرست


تقريظ..................................................................ه
تقريظ..................................................................و
د كتاب مثال.......................................................ح
ډالۍ ......................................................................ح
د سر خبرې.........................................................ط
د كلي، قوم او ټولنې رهبري ګټل........................ ۱
ماضي بيا نه راګرځي ......................................... ۲
يوه موسكا د ګل جوړه.......................................... ۳
سالم نقدونه هم كوه ، هم يې منه............................ ۴
كه په سختو كړلېچو لاړې ، كمران شوې .................... ۵
ښې چارې نه مري.................................................. ۶
د ماشوم اول تربيه فايده ده ....................................... ۷
روزنه كې لوى شوى ، اولاد يې مېوه شوى .................. ۸
بد مرسته كوونكى دوست، ميرځمن دى .......................... ۹
ماشومتوب پنسل ، لويتوب قلم دى.................................. ۱۰
ناګهان قضاوت ، شر زيږوي........................................ ۱۱
د بچي خاصيت پلار ته منوسبيږي..................................... ۱۲
په سر لونګۍ ، كه چل بازي............................................. ۱۳
د بريا كيلي اختيار ده ..................................................... ۱۴
ډېر غرېدل مو ، ډېر ارزښت ختموي .................................. ۱۵
مدد كوې ، كه نوم ګټې .................................................. ۱۶
سالم انسان لكه مېوه داره ونه......................................... ۱۷
د دانايانو ژوند ، په اور يې ژوند.................................... ۱۸
وحدت له يو، سل جوړوي................................................. ۱۹
همت ناكېدونكې چارې، كېدونكې كوي ................................ ۲۰
كورنۍ كه بې روزنې شوه، تحقيره شوه............................. ۲۱

بې ارتکابه کس، هر ځای کې محفوظ وي ........................ ۲۲
چې قانون ماتوي، ځان ماتوي ........................ ۲۳
پسولل بوټی او ښه وګړی زیان نه لري ........................ ۲۴
د ناکامۍ او تباهۍ زیری ، چا چې لمونځ پرېښی ........................ ۲۵
بد خپل اغېز شاوخوا هم شیندي ........................ ۲۶
د دوستۍ ممتاز معیاري ارتباط ........................ ۲۷
که مور خپه لاړه، بلا په بچي تل راغله ........................ ۲۸
دوست په رنګ نه، په زړه لټوه ........................ ۲۹
که بل دې سپك کړ، ځان دې سپك کړ ........................ ۳۰
د ځوانۍ په لاره کوږ مزل ........................ ۳۱
د روژنې لړه ناغيړي، د کشرانو تخريبي ........................ ۳۲
نو د بل په اوږو مه بارېږه، هڅه وکړه، چې منزل ........................ ۳۳
ښځې نادان، جاهلان او ظالمان ټکوي ........................ ۳۴
که متين شوې ، وبه نه شلېږې ........................ ۳۵
ورزش د ژوند ښکلا ده ........................ ۳۶
که چاپلوس شوې، د خېرنو پښو څټل شوې ........................ ۳۷
په دعوا کې د حريف غورځول ........................ ۳۸
کمال نه ګټل کيږي، چې عقل نه کارول کيږي ........................ ۳۹
که هر ځای ځې، شخصيت به ژوبلوې ........................ ۴۰
لنډ مهالې ګټې، مستقبل نه جوړه وي ........................ ۴۱
که ربړې وګالې، منزل به وګټې ........................ ۴۲
د ځان ټاکنه، نورو ته همدا ټاکنه ........................ ۴۳
که زړه مجروح شو، بیا نه راغيږي ........................ ۴۴
ځينې وخت مقر بدلول ، نوی ژوند دربښي ........................ ۴۵
په تروږمۍ کې رڼا ځان نه ورك کوي ........................ ۴۶
د سر زورۍ چارې ګټل نه لري ........................ ۴۷

هوښيار ځان سوځوي، خو نور خوښۍ ته رسوي ............ ۴۸
د رهبرۍ اقتدار د دانايي په لاس........................... ۴۹
طالع مند دي، چې په خپل مامن پراته دي ................... ۵۰
دريم فصل................................................ ۵۱
نا مصوري ويناوې......................................... ۵۱
علم نشاط ، ښيراز او ضرورت دی ........................... ۵۱
د ګټونکې موخې يون ....................................... ۵۲
ډېر مه ټاکه چې نه راسېږې، که يو وټاکې، کمال به وګټې............ ۵۲
د ژواك برلاسه خوځښت په دوستورالعمل........................ ۵۳
يووالی پت، راحت او پرمختګ زيږوي .......................... ۵۵
شهکاري، طلايي او دانايي خلك............................... ۵۶
د هوښيارۍ کمال، مقام او لار................................ ۵۷
د هوښيارۍ کمال، مقام او لار................................ ۵۸
موسکا د ژوند ښکلا.......................................... ۵۹
د ځان پلورل................................................ ۶۰
د پلار ارزښت، مکلفيت او متانت ............................. ۶۱
د پلار ارزښت، مکلفيت او متانت ............................. ۶۲
د کورنۍ سعادت، عزت، اصيليت او غيرت په دوستورالعمل ........ ۶۳
د کشرانو روزنې ، شخصيت جوړونې او برخليك جوړونې لارې.......... ۶۷
د دوستۍ پاللو، موندلو او مجللو معيار ........................ ۶۹
د ناکرديو ستر عامل ناصافه سرمايه ده........................ ۷۰
د نادانو کړنې ، سپکې او د هوښيارانو سوځېدنې .................. ۷۱
جعلي درنښت ............................................... ۷۲
د ښو جوړونې، عادتنې او پالنې ثمره ............................ ۷۳
د ورزش اړتيا ښکلا او فايده .................................. ۷۴

کم وزن لرونکي خلك ارام، کامران او کمال وي ........................ ۷۵
که دا چارې ترسره شوې ، هوبهو تاوانه شوې.......................... ۷۶
که دا چارې ترسره شوې، هوبهو تاوانه شوې ........................ ۷۷
مجلې، ارزښتمنې او نادرې ویناوې په رنګارنګ شکل.................. ۷۸
څلورم فصل............................................................ ۸۱
د شعر په شکل متلي ویناوې.............................................. ۸۱
۱- ښه لاره ۲- بده لاره ۳- که ښه شوي.................................. ۸۲
۱- که ولوېدې ۲- غریبي پیغور نه ۳-خوله خاندي........................ ۸۳
۱- ژوند کمال ۲- یار ۳- پاکه اراده ........................................ ۸۴
۱- نسل تبا ۲- پیسې سجدې.............................................. ۸۵
۱- نه یې نشتېدن ۲- غوسه هنګامه ۳- نادان تاوان ........................ ۸۶
۱- ناکام ژوند ۲- خوارې خبرې ۳- ایمان غیرت.......................... ۸۷
۱- موسکا هنر ۲- بوډا انسان ۳- صافه بدنام .............................. ۸۸
اخذ او مننه .......................................................... ۸۹
د لیکوال لنډه پېژندنه.................................................... ۹۰

# تقریظ

د ښاغلي ځوان په وطن مین ژورنالست دغه کتاب مې ولوست، ما د نني افغانستان د ټولو ناخوالو څیره په دغې هنداره کې ولیدله . د حبیبي صاحب د پندونو په دغه مجموعه کې ، د ځوانانو د ذهن د روښانولو له پاره دغه پندونه ، لکه د یو متخصص چې د خپل مریض په علاج بوخت وي او په ډېر زحمتونو په ګاللو سره ورته په کامیابۍ سره دارو پیداکړي.

د حبیبي صاحب دغه کتاب د یوې موثرې نایابه نخسې په شکل، خپلو وطنوالو ته په خپل زحمت او هلو ځلو د دماغي نبوغ په لرلو سره دا پندونه وړاندې کړي.

زه د خبرو له اوږدولو نه ډډه کوم او نه غواړم چې د حبیب الله حبیبي صاحب په پندنامو زیات نور څه ولیکم. زمونږ په دري ژبه ډیره ښکلي ضربالمثل دی چې د زړه خبرې پکښې نغښتي دي، مشك انست که ببوید ، نه آنکه عطارګوید .

ځوان په وطن مین حبیب الله حبیبي صاحب وتلي ژورنالست ته دې خدای (ج) توفیق ورکړي، چې دځوانانو د اذهانو په روښانولوکې لاډیرې هلې ځلې وکړي.

د افغانستان د پخواني ولسمشر حافظ الله امین خوریې
دیپلوم انجینر ( عبداللطیف بریال ) د قاضي خیلو د پغمان اوسیدونکی.
ومن الله توفیق

# تقريظ

د ښاغلي حبيب الله حبيبي (منګل) په زړه پورې کتاب چې ډير شمير متلونه او غوره وينا وې يې پکې راټولې کړي دي او نوم يې(راځئ ژوند زده کړو) نوميږي، سرتر پايه ولوست. نوموړي دغه کتاب په څلورو څپرکو کې په (۹۰) مخونو کې کښلی دی او په هغه کې يې متلونه او غوره وينا وې د نثراو شعر په بڼه په انځوريز او غير انځوريزه توګه پکې راټول کړې دي او بيا يې هريو متل او دلويانو پخې خبرې يې په ښه توګه تشريح کړي دي.

لکه چې مونږ او تاسو ټول په دې خبره پوهيږو چې متلونه، او د لويانو پخې خبرې او غوره وينا وې د هرې ټولنې د ولسي ادبياتو يوه مهمه برخه ده او د دغو تر شا اوږدې کيسې پرتې دي. متلونه او غوره وينا وې د خلکو د تجربو پر بنسټ هغه نصيحتونه دي چې په لنډه توګه بيان شوي دي اوپه لنډو جملو کې لويې خبرې پکې رانغاړل شوي دي.

د پښتو د ولسي ادب لمنه هم د متلونو او غوره ويناوو نه ډکه ده او که رښتيا ووايم زما د څېړنو پر بنسټ دومره متلونه او غوره وينا وې چې د پښتو په ولسي ادب کې شته د ډېرو ټولنو په ولسي ادبياتو کې نشته. زموږ په ټولنه کې دغه متلونه او غوره وينا وې د لوستو او نا لوستو خلکو تر منځ هره ورځ په ورځنيو خبرو اترو کې کارول کيږي.

ښاغلي حبيبي صيب هم هڅه او هاند کړی دی چې په خپل کتاب کې هغه متلونه او غوره وينا وې راوړي چې زموږ په ټولنه کې معنوي ارزښت لري او زموږ د ټولني په معنوي جوړښت کې مهم او رغنده رول لوبوي.

ښاغلي حبيبی صيب په دې کتاب کې د ژوندانه ډيرو ټولنيزو اړخونو ته اشاره کړې ده او د ده دغه کتاب له موږ سره دا مرسته کوي چې د ژوندانه په ټولو اړخونو کې موږ ته د يوه لارښوونکي حيثيت ولري، ځکه موږ انسانان د خپل ژوندانه په اوږده واټ کې کله نا کله تيروتنې هم کوو، نو زموږ په ژوندانه کې د دغسې پخو خبرو عملي کول نو موږ د ډيرو تيروتنو او انحرافاتو نه ژغوري او موږ ته ديوه روښانه راتلونکي پر لوري لار ښوونه کوي.

د هغو ټولنو خلکو چې د خپلو پخوانيو اسلافو او مشرانو پخې خبرې او ويناوې يې په عمل کې پلي کړي دي نو برياليتوب يې په برخه شوی دی، ځکه د خپلو مشرانو له تجربو يې ګټه اوچته کړې ده.

په پای کې ښاغلي حبيب الله حبيبی منګل صيب ته ددغه ګټور کتاب دليکلو مبارکي وايم او له لويه خدايه ورته ددغسې نورو ګټورو کتابونو په ليکلو کې دبرياليتوبونوهيله کوم .دده قلم دې تل تاند وي.

درنښت

ډاکټر لطيف ياد

لويديزه آستراليا د پرت ښار – د ۲۰۲۰ زيږديزکال ددسمبر ۱۲ مه نېټه

# د کتاب مثال

د دغه کتاب مثال د هغه مور او ماشوم په څېر دی ، چې ماشوم زانګو کې وژاړي، مور شـېدې ورکړي، کرار شـي. هوبهو ناوړه ژوند به هلته په کرار شي ، چې دغه کتاب زده شي.

دا کتاب له اغزي ګل جوړوي او له نادانه عقلمند جوړوي.

# ډالۍ

هغو طالع مندو، سربلندو، معززو او شکوهمندو افرادو ته ، چې هره ورځ او هره ګړۍ ، هر ځـای او هر وضـعیت کې پـه عـادتي ، حقیقي او دایمي شکل د ځان او کورنۍ په تربیه کې تفکور، تدبور او رول کاروي.

# د سر خبرې

زمونږ د جامعې یوه ستره بدمرغي دا ده، چې ځوك مال، مقام، فېشن او هویت لري؛ که سپك، زلیل او بې مخینې هم وي، پت یې کیږي. خبره یې اورېدل کیږي او منل کیږي. کار، نظر او پلان کې یې ټول همفکره کیږي. د هغوی پر وړاندې مو د خبرو کولو جراءت کمیږي. که پړ وبلل هم شي، پر وړاندې یې خبره او غبرګون نه ښودل کیږي. که له مونږ کوچنی هم وي، د کښېناستو، ولاړېدو او د تلو لپاره مو خپل ځای ورته پرېښودل کیږي. د ارتزاقیات له مخې که ډېر فقیره هم اوسو، هغه څه مو ورته چمتو کیږي، چې په کال او عمر کې مو نه وي ارتزاق.

مګر بې رنګه، بې فېشنه او بې شتمنه که په جامعه کې ډېره دانایي (هوښیاري) علمي، عزتي، کمالي او غیرتي هم ولري، نور یې هیڅ نه ګڼي، قدر، عزت او ارزښت خو یې بیخي نه کیږي. د علم له لحاظه هم په صفر کې ضرب کیږي، که په علم کې نوښت رامنځ ته کړي او نوښت یې په وحدت، پرمختګ او د ناخوالو په ترك کولو استدلال هم ولري، یا د ځینو نورو څخه په ادب او فهم کې ارزښت، ذینت او کمال ولري، بس د نورو د پام وړ به نه ګرځي چې دغې چارې د جهان په سزاوارو ، هوښیارو او دانشمندو اشخاصو ډېر بد اغېز ښېندلی.خو بویه ددې ناوړه چارې رېښې باید له بېخه وایستل شي او د استعدادونو قدرداني او ستاینه وشي، هغه که د خان په جامه کې وي یا د فقیر او هغه که لوی دي یا کوچني.

نو په دې اساس کمتر عمرې او فقیرې څېرې لیکوال (حبیبي) د شاوخوا کال په دوام، د جهان بینۍ له مخې، په ادب کې د وحدت، مترقۍ، تربیتۍ او د ناکردۍ د ختمې تر عنوان لاندې، په خپلې خاصې آيډیالوجۍ، تخلیقۍ او متبحرۍ نوښت(کتاب) رامنځ ته کړی، چې بڼه یې مصوري او لنډ غونډلي. منځپانګه یې واعظي، ناصحي، مترقي، متلي او وحدتي ده. همدا راز د جملو له مخې په ترکیب کې روانیت، منظم او متصل لري،

چې د لوستونکو د لوستنې لپاره يې ځيرکه نوښتي کارولې، څو يو خوا ته لوستونکي ورته پام واړوي او بل خوا لوستلو کې لوستونکو ته سکون يا اساېش پيداکړي.
ددې کتاب فهمونه په يو يا څو سکالو پورې نه دي پيوند ، بلکې هغو سکالو ته رمز شوي دي، چې د سالم ژوند د رغولو، زده کولو او بقا کولو لپاره ضروري او ګټور دي.
د کتاب په پاڼو کې فهمونه په رنګ رانګ شکل اچول شوي، ځکه هر يو په خپل ځای کې خپل فهم او د وينا شکل لري، چې يادې وېناوې د بشر د اړتيا پوره کولو لپاره اساسي او بنيادي اړخ لري، څو زده او عملي شي.
د کتاب فهمونه د هزل او مطايبې څخه مصفي دي.
نوموړی کتاب (ژوند زده کړه)د چاپ دمخه يو شمېر مشاهېر ادب پوهانو د جامعې په نفه نومولی او هم يې جهان ته يو ضرورت بللی، چې په کار وه ډېر پخوا لېکل شوی او نوښت شوی وی.
وړانديز:
په پای کې له تاسو معززو لوستونکو څخه اقتضا لرم، چې د کتاب فهمونه او د فهمونو جملې، لغتونه او حرفونه په خورا ځيرکتيا ، په آرامه فضا او په ارامه حوصله سره ولولئ، څو د فهمونو د ويلو څخه خوند او فهم ښه واخېستلی شئ.
همداراز د کتاب پالنه، حفاظت او حيثيت حتمي وساتئ ، څو د اينده نسلونو لپاره مزمن پاتې شي او د محوا کېدنې لامل يې تيت شي. هېله او اعتماد لرم چې دا نوښت ستاسې په ژوند کې د فلاح، وقار او مترقۍ باعث وګرځي.

باالحترام : حبيب الله حبيبي منګل

ومين الله توفيق

# د کلي، قوم او ټولنې رهبري ګټل



انځور - ۱

چې لاس ور نکړې، دروازه به خلاصه نکړې.

مطلب :

مشـري ترهغې نه ګټل کیږي ، چې د نورو ملاتړ درسره نه وي. ملاتړ د نورو هغـه وخت ګټلی کیږي ، چې لاس دې بـل لاس ســـره پیوند وي. ځکه نور د دروازې مثـال لري ،کـه لاس دې ورکړ (پـاك زړه دې ورکړ) د زړه ابلـه یې همېشه درکړ. نو مشري ګټل که غواړې، نورو ته لاس ورکړه.

# ماضي بیا نه راګرځي




که تېر هر څومره فکري شي، بیا به واپس نه شي.

مطلب :

د عادت په ډول په ماضـي منفي حالاتو او افعالو خیال کول، د ژوند تنګۍ، ناکامۍ او ورانۍ زیری دی، ځکه تېر داســې مثال لري، لکه د خولې څخه وتلې خبره، چې بیا نه راګرځي. عین شــان که تېر هر څومره د خیال نړۍ ته واچول شي، بیا نه راګرځي.

نو ماضي د ځان پوښتنې لاندې مه راوله، بلکې پرځای یې ندامت په متانت وښایه او د بیا تکرارېدو هڅه یې مه کوه.

# یوه موسکا د ګل جوړه



انځور ـ ۳

غوټۍ چې وغوړېږي او ګل شي، عاشقان یې ډېر پیدا شي.

مطلب:

خوله د غوټۍ په څېر ده، چې موسکه شوه، ګل غوندې څېره شوه، د هر چا د پام شـــوه، څکه غوټۍ چې ګل شـــي، هر څوك غواړي ورشـــي، بوی یې کړي، څو ځان پرې تسکین کړي. عین شان موسکه لرونکي خوله نورو ته سکون وربښي.

نو که ګل کېدل غواړې او چې یاران پرېمان کړې، نو همېشه موسکا وټاکه.

.

## سالم نقدونه هم کوه ، هم يې منه



انځور - ٤

منفي نقد ، غورځول زيږوي.

مطلب :

که چا کې مو څه نېمګړتيا لېدله، نابره يې نېوکې لاندې مه راولئ، هڅه وکړئ چې په نرمه يا موسکا يې ورته پام کړئ، مانا په رمز کې ورته ووايئ چې ( پلانيه که زه ستا په ځای وای، نو ما پلانی کار په دا شکل ترسره کاوه). هغه به لاس په کار شي، ستا مقصد به واخلي، ممکن ستا په وجه بريالی هم شي.

نو ځينې وخت سالم نقدونه هم حالات تغيروي او کميابي پيداکوي.

## که په سختو کړلېچو لاړې ، کمران شوې




میخ چې وټکیږي، کلك شي

مطلب :

هغوی چې کړاونو کې ایسار پاتې دي، هڅه کې بار بار پاتې دي، لوړ مقام ته خامخا تللي دي . ځکه د میخ متانت په ټکولو کې دی. همدغه شان چې سختې وخوړل شي، تسلیم نه شي، لوړ مقام به خامخا خپلوي.

نو که کامران کېدل غواې، سختې وګاله او وجنګه.

# ښې چارې نه مري



انځور - ٦

داسې لاړ شه، د قدم پلونه ګلان کړه

مطلب :

چېرته چې اوسېږې، هلته وخت په داسې ښوکړنو، ښو خبرو او ښو چلندونو تېر کړه، چې ته نه وې، خو ستا سالم خویونه او سالم خاطرات پاتې وي او خلك ستا په نشتون کې ستا حسرت وکړي. ځکه نېك سلوکونه تل احیا وي، مدحه او ستایل کیږي.

نوکه غواړې چېرته شاد، وقار او سربلند وخت تېر کړې یا دې نوم پاېښت شي، بیا اخلاق، حیا او ښه رفتار د ځان عادت وګرځوه.

# د ماشوم اول تربیه فایده ده



انځور - ۷

که دېوال لوړېږي هم کږېږي، چې سر يې کوږ اچول کېږي

مطلب:

ماشوم چې ماشوموالی کې اصلاح نه وي ، لوی والی کې به هیڅکله اصلاح نه شي،ځکه ماشومتوب د دیوال بنیاد ده، که بنیاد محکم وي دیوال تر پایه کلك وي. داسې د انسان بنیاد که تربیه وي، تر عمره به تربیه وي، مګر که بنیاد ناسم ایښی وي، تل هلته خاطر وي. نوکه ماشوم په ماشتوب کې اصلاح نه شو، لویتوب کې به یې هیڅکله اصلاح نه شي.



انځور ـ ۸

که نیالګی کېنول کیږي، پالنه به یې کیږي

مطلب:

که اولاد د دې لپاره غواړې چې پکار مې شي، یا د میوې په شان ارزښت پیداکړي، روزنه به ضرور ورکوې. څکه کېنولې ونه د ښیرازۍ لپاره لومړی اوبو او بیا حفاظت ته اړتیا لري. همدغه شان بچی همداسې دی لومړی تربیې ته اړتیا لري، بیا علمیت ته، ترڅو لویوالي کې خواږه میوه جوړ شي او نورو ته فایده وکړئي، نو که هوښیار، پیداور او متدین اولاد غواړې، ماشوموالي کې سالمه تربیه ورکړه.





بد نیازه دوست، دوښمن دی!

مطلب:

هغه دوست چې بد هیلي يې در پوره کړې، په دوستۍ يې شك، او د ځان دوښمن وګڼه، ځکه ښه دوست، خپل دوست ته د عزت او سلامت هیله وي، مګر بد ، عزت او سلامت ورانوي.

نو له بد سره په راشه درشه او ناسته پاسته کې جدي چلېږه، کنه د مار په شان ټکان به وخورې.

# ماشومتوب پنسل ، لويتوب قلم دی



انځور - ۱۰

**پنسل خط رنګيږي، قلم خط پاتې کيږي**

مطلب:

**ماشومتوب د پنسل په څېر دی، که تېروتنه او شوخي پکې وشوه، د پنسل خط په څېر به پاکه شي، مګر لويتوب لکه قلم غوندې، شوخي، خط يې هيڅکله نه پاك کيږي، ځکه د پنسل ليکل رنګيږي، مګر د قلم ليکل په ځای پاتې کيږي، نه رنګيږي.**

**نو چې لوی شوې، لکه د قلم لېکلو ته چې پام نېسې، همدغه شان په کار، کردار او لار کې پام نيسه.**

# ناګهان قضاوت ، شر زیږوي



انځور - ۱۱


ځکه ماته ګوډه وه، چې پرېکړه نابېره وه.

مطلب:

هغوی چې ناګاهان یا ناپیژاند قضاوتونه کوي، موخه په اصلي نه کوي، کټ مټ د کاڼو او ړندو یې کوي، ځان د نورو پښو ته ګوزاروي، ځکه بېلګه پاس ده، مظهر کې ککرۍ ښکاري، خو په واقعیت کې د لاس ګوته ده .

نو هر پرېکړه چې په هر څه اورول غواړې، ړومبۍ اصل بیا نا اصل تجزیه کړه، چې ماهیت اپنه شه، هغه وخت بیان شه.

# د بچي خاصیت پلار ته منوسبیږي





په کرل شــوي تخم کې هغه بوټی لویږي، له کوم بوټي څخه چې محصول شوی وي.

مطلب:

اولاد د تخم خاصیت لري، هغه څوك یا هغه پلار پکښې لویږي، له کوم پلار څخه چې محصــول (پیدا شــوی ) وي. نو که پلار اصیل، میړانی او اخلاقي وي، بچی به یې هم اصیل، میړانی او اخلاقي وي او که پلار نااصیل، بې ننګه او بد اخلاقه وي، بچی به هوبهو همداسې وي.

# په سر لونګی، که چل بازي




انځور ـ ۱۳

که لونګۍ ډېرې، سرونه کم دي

مطلب:

د لونګۍ سرونه ډېر دي، له هر چا سره دالۍ دالۍ پراتې دي چل بازۍ کې ماهرین دي، خو د لونګۍ اصلي سرونه کم دي. نن په سلو کې د دوو سرو په سر دي. ځکه هغه سرونه کم دي، چې د لوړې مازدیګر باندې وېده و، خو تېتې سترګې نه و. بې ښځو به زوړ و، په زنا به ککړ نه و. نن ګوره اکثر سرونه سپک دي، فیشني لونګۍ په سر دي. ناروا د ځان مسلك دي.

نو اصل، میړانه او وقار د خلکو په لونګۍ کې مه لټوه.

# د بریا کیلي اختیار ده





په لاس ده، بریا کیلي اختیار ده

مطلب:

د بریـا کیلي د هر چـا خپـل لاس کې ده، چې کمـاـل تـه ځان پـه رســولی شـــي. نور تا ماتولی نه شـــي، د منزل په مزل کې خنډ کېدلی نه شي، هغه پلان چې تسلط، تفکور او تدبور ولري.

نو کـه بریـا ګټـل غواړې او د لاره پـه اوږدو کې خنـډونـه مـاتول غواړې، یو هوډ بل اختیار وټاکه.

## ډېر غږېدل مو ، ډېر ارزښت ختموي


انځور ـ ۱۵

**خوله چې ستره شي، منزل ته نه رسېږي**

مطلب: هغوی چې تل بې وخته، بې مباده او بې ځایه غږېدل کوي، اګاه دې شي، خپل ارزښت به خامخا بایلي. ځکه د اړتیا پرته غږېدل ممکن داسې الفاظ وکارول شي، چې بېهوده وي، لکه توهمت، غیبت او کاذبیت، ځکه د اړتیا خبرې په اړتیا ویلو کې خلاصې شي، نور چې هر څه ویل کیږي، خامخا به منفي اړخ لري او منفي ښکاره ده چې په هر شي بد اثر لري او پایلې یې ویجاړونکې وي.

نو که غواړې هر چېرته ښه، خوشحاله او پتمن وخت تېر کړې، خپله خوله (ژبه) هر وخت، هرځای او هر حالت کې په اختیار او ضرورت چلوه.

# مدد کوې، که نوم ګټې




که مرسته کیږي، زخم وسعت کیږي

مطلب: که یو څوك فقیر دی، لاس نیوي ته اړ دی، په مانا کې نادان، بې شرف او بې تربوره نه دی، بلکې ژوند د ډېرو مالدارانو په نسبت خوښ، سلامت او معزز تېروي، ځکه اکثریت خانان یوازې ظهوري خوښي، تجملي او درنښت لري، مګر غریب باطن پلوه پت، صحت او خوښمندي لري، تنها ظهور یې فقیری وران کړی وي، چې ځینې وخت د نورو لاسنیوي ته اړ وي، مګر دلته اکثریت لاس نیوونکي (مرسته کوونکي) ځان ښودنې، نوم یا هویت ګټنې په پار مرستې کوي، چې خیرت او د چا حیثیت تر پښو ښکته وي، فلم یا انځور یې په دنیا ګرځوي، داسې د غریب سترګه په ټوله دنیا ټیټه وي. نو که خپله نیاز کوونکی یې له هغه نیازه تېر شه چې د پت سپکتیا ګرځي، یا که نیاز غوښتونکی یې بې پته مرستې مه خوښوه.



انځور ـ ۱۷


که ونه میوه داره وي، په هر چا ګران وي

مطلب:

د ښـه انسان خاصیت د مېوه دارې ونې دی، مېوه داره ونه په هر چا ګرانه وي. عین شـان ښـه انسـان په هر چا ګران وي، زړه کې ځای ورکوي، ځکه ښـه اخلاق، ښـه کردار او ښـه الفاظ يې نورو تـه لکـه خوارۀ میوه، چې طاقت او راخت لري، نورو تـه فـايـده وربښي.

نو ځان د میوه دارې ونې په شـان ورغوه، نور به همېش درسـره جوښت وي، لکه میوې غوندې فایده به درڅخه واخلي.

# د دانایانو ژوند، په اور یې ژوند





په اوږه یې بار دی، د دنیا غم د هوښیار دی

مطلب:

د ژوند خوښي او تازه ګي مدام له هوښیار سره تضاد او جنګ خوځوي، یعنې هوښـــیار د خپلې عقلمندۍ له مخې هیڅ ګاه د خوښیو، خوشحالیو او تازګیو خوند نه څاکي، څکه څومره چې عقل زیاتیږي، دومره ژوند زده کیږي، افکار پراخه کیږي، هر کار فکر ته لویږي، نو څکه هوښیار په هر څه ډېر زوریږي، ښکلا یې زورېدلو کې ختمیږي،خو ژوند یې سیده کیږي.

نو یا هوښیار شه، یا د هوښیارانو یار شه، که وځوریدې، خو ژوند به وګټې.

# وحدت له یو، سل جوړوي




وحدت سل جوړوي، ډب ته سم ټټر ډبوي

مطلب:

هغوی چې اتحاد کاروي، سـل ګزاره بیا سـپر کوي، ځکه چې وحدت وي، د یو بل ملاتړ وي، ملاتړ له یو څخه سل زیږوي.

نو که ځان غواړې چې سل کړې، د سل ګزارو سپر شې، اتفاق د ځان خصه وټاکه.




**چې همت وي، کوږ منزل ګټل وي**

**مطلب:**

**هغوی به هیڅکله هدف ته ونه رسیږي، چې همت ورسره مل نه وي، ځکه هر کمال په توان ولاړ دی، هغه وخت ترلاسه کیږي چې توان کمال ته غیږه ورکړي.**

**نو هغه کمال چې ګټل لري، که څو پېچلی وي، ګټلی کیږي، خو چې همت شته وي.**




بڼوال وېده دی، بڼ یې وچ دی.

مطلب:

کورنۍ لکه یو بڼ، که تربیې څخه محرومه شــوه، وار په وار تحقیره شوه، ځکه بې پالنې بڼ ژر وچ شوی. عین شان بې روزنې کور، ژر تخریب حال ته لاړ شوی.

نو د کورنۍ مسؤله وېښ شه، وېده کېږه مه (غلی کېږه مه) خپل کور تربیې ته کړه.



انځور ـ ۲۲

چې نه دې وي ګناه، د شپې ګرځه په بېدیا

مطلب:

چې په کوم جرم ککړ نه وې، که د شـــپې هم مزل وهې، یا په هره میرا شــپه کوې، د ویر ترهه به نه لرې، ځکه د مجرم ملګری ډار دی. د پاك ملګری مواس دی.

نو صـاف او شـفاف اوسـه، په هیڅ حال، مهال او ځای کې به د ویر مرثې ونه ګرځې.

# چې قانون ماتوي، ځان ماتوي


انځور ـ ۲۳

سر به خوري، قانون چې ماتوي

مطلب:

هغوی چې قانون ماتوي، په اصل کې خپل ځان ماتوي، ځکه هر قانون چې هر چېرته نافذ وي، هلته سر او مال خوندي وي او که هلته بیا قانون ماتیږي، د سر او مال زیان به ضرور پیښیږي.

نو که هر چېرته ځان او مال خوندي پاتې کول غواړې، د هماغه ځای قانون اختیار کړه. د کور روزنې قانون، د کلي او قوم نرخونو قانون، د ښوونې او روزنې قانون او د هیواد اساسي قانون، خو باید د الهیت او بشریت ګراف وجود وي.




ونه شنه ده، په ځای ده

مطلب:

ښه انسان لکه زرغون نيالګی، مدام په ځای پاتې وي، چې له زيان څخه سالم پاتې وي، ځکه هغه شجر نه وهل کيږي، چې پسولل وي، پسولل (زرغون) سيوری او مېوه لري. همدغه شان ښه انسان اخلاق، د هر چا احترام او عاطفه لري، ځکه سالم ځای لري.

نو که ځان زرغون، له زيان څخه محفوظ، په کور، ټولنه کې محبوب رايجول غواړې، ښه خويه اوسه.




که ژرنده په اوبو چلیږي، ژوند په لمونځ چلیږي

مطلب:

د ژوند ایین لمونځ دی، چې بې لمونځ شې، ژوند ستونزمن شي، ځکه ژرنده په اوبو چلیږي، څو حصول وکړي. اوبه چې نه وي، د حصول آله يې نه وي.

همدغه شان خوښمنده ژوند په لمونځ چلیږي، کله چې لمونځ نه وي، هغه ته پت، راحت او کمیابي هم نه وي، ځکه آله يې نه وي. نو لمونځ د ژوند بریا او جمیله ده، په هر زمان، مکان او حال کې تاته پت، راحت او صحت دربښي.

## بد خپل اغېز شاوخوا هم شيندي




**میوه چې خوسه شي، زيان يې شاوخوا لاړ شي**

**مطلب:**

**له بد خلکو سره په عادتي شکل صحبت کول، حتمي به ته هم بد کېږې، ځکه لېدل شوې میوه خوسه وه، څنګ کې ښه يې هم خوسه وه.**

**نو له دوی به هم بتر شې، چې له بدو سره ژوند کړې.**

# د دوستۍ ممتاز معیاري ارتباط





هغه خپل دی، چې په اور درسره ګډ دی

مطلب:

دوست هغه دوست وي، چې سخته کې دې جوښت وي، د مرستې لاس يې خوږ وي، ځکه يار هغه يار وي، چې سخته کې پکښار وي، د مرستې هوډ يې پاك وي. همدا راز ښه يار دريم لاس دی، د ناکردۍ په حل کې قوي رول لوبوي.

نو له خپل سره مخلصانه چلند، په سخته کې مهذب او بزم کې تاکيد وتاکه، ربړې به جدي ختميږي.

## که مور خپه لاړه، بلا په بچي تل راغله



انځور - ۲۸

په ازار کې مور مهجوره، انجام یې بچي ګوره

مطلب:

که مور ازار وه، بچي عفوا ناکام وه، په دا محال دنیا څخه فراق وه، آفت بلا په بچي راغله، ځکه ځینې د دې پرځای چې مور ته مینه، قدر او سکون ورکړي، برعکس سپکې سپورې، واویلا، ان ټکول ورکوي، چې انجام یې ناکامي، نارامي او حسرتي وي.

نو که زړه پاچا کول غواړې، د مور زړه وګټه، چې ابدي پاچا وګرځې.

# دوست په رنګ نه، په زړه لټوه



انځور - ۲۹

که تور دی، زړه یې واورې غوندې سپین دی

مطلب:

خپلوۍ ټاکلو کې د تورو، سپینو خوښه مه لټوه، بلکې د سپین زړونو ټاکوونکی اوسه، ځکه ځینې مظهر کې سپین وي، خو زړونه یې تور وي او ځینې مظهر کې تور وي، خو زړونه یې د واورې غوندې سپین وي.

نو د دوست په ټاکلو کې د چا فېشن، منزل او رنګ ته مه ګوره، هغوی چې باطنپاکه، نېك افعاله او سالمه خویه دي، که رنګ کې تور دي یا سپین، ویې ټاکه.

## که بل دې سپک کړ، ځان دې سپک کړ




انځور - ۳۰

**که پور دې واخېست، سبا يې درنه واخېست**

**مطلب:**

**هغوی چې نورې خويندې، ميندې سپکوي، سبا خپلې خويندې، ميندې خپله سپکوي، ځکه زنا پور د. نن که دا پور ته اخلې، سبا به دا پور ستا مور، يا خور او لور حتمي پرې کوي.**

**نو په ياده لره! د بل سپکه، بدل يې سبا خپل کسه.**

# د ځوانۍ په لاره کوږ مزل



انځور ـ ۳۱

زمری چې خوار شي، کرار شي

مطلب:

ځیني خلك چې زاړه شي، بد يې ورك شي. داسې خو زمری چې ځناور دی په ځوانۍ کې مست او زورور وي، خو چې زوړ شي، زور يې ګور شي. ځیني ځوانۍ دا رنګ په زور، مستۍ، کمربازۍ، لوچکۍ، لوفرۍ، بداخلاقۍ، بې حيايۍ او په ساز، سرود او په نشو لهو کړي، چې کله زوړ، په تن زهير شي، بیا انسان ترې ووځي. نو که بیا پاچاه شي څه فايده، چې سپك تاريخ هميش ايښی وي.نو اصلي ځواني ده چې انسان بايد کې ښه اوسي، ځکه د ځوانۍ چاره اثر او بنياد لري، که چا ښې ترسره کړه، همدومره به سعادت پيداکړي او که چا بدې همدومره به نقصان پيداکړي.



انځور - ۳۲

که روزنه یې ناوخته شوه، د کشر لار غلطه شوه

مطلب:

د کشرانو په تربیه کې همېشه جلتي، جدي، ساعي او داعي اوسه، کنه لړه ناوختي به یې د تل لپاره ناکامي، بې حیثیتي او ذلیلي وګرځي.




مېږه چې رمې څخه جلا شي، د لېوه ښکار شي.

مطلب:

هغوی چې شاوخوا خلکو، خپلوانو او قام سره تماس بېله وي. درد، غم او بې پتي به يې حتمي ځپي، ځکه مېږه هغه وخت د لیوه ښکار ګرځي، چې رمه او د رمې ايين تعديل کړي. عين شان وګړي هم ځپل کيږي، چې شاوخوا خلکو، دوستانو او جامعې سره ارتباط وشلوي.

نو که ځان او کورنۍ د بې لارۍ څخه ژغورل غواړې، د شاوخوا خلکو، خپلوانو او قام سره په غم، ښادۍ او نرخ کې ونډه وال اوسه.



انځور ـ ۳۵


معصوم اسیر به وهل کیږي، په زندان جاهل حکم چلیږي.

مطلب:

د کورنۍ واګې چې د جاهل لاس ته ولوېده، هلته به ښځه رټل او ټکول خوري، ځکه اسیر په زندان کې تهذیب کیږي، په اخلاقو، وهل کیږي نه، مګر ناپوه حاکم تهذیب نه، ټکول کاروي.

همدغه شـان به ښـځه رټل او ټکول حتمي تیروي، که کورنۍ واګی ناپوه چلوي، نو ښځه د بشر وسعت ده، د راخت منبع ده او د کور ډېوه ده. حق، ارزښت، راحت او نیك خصلت ورکوه.

# که متین شوې ، وبه نه شلیږې




چې مړ نه یې، مات هم نه یې

مطلب:

که بې کچې هم فقید شوې، یا ټوټه پاتې وې هیله، زغم او ځواك له لاســه مه ورکوه، هڅه وکړه چې ځان بیا بیدار کړې، ځکه ډېر په ډېرو ســببونو غورځیدلي، خو بیا راپاڅیدلي، د دنیا نایابه سیدان او پاچاهان ګرځیدلي.

نو په هر وضـعیت کې هیله، تحمل او اطمېنان ولره، هڅه ځانته کار وټاکه.

# ورزش د ژوند ښکلا ده



انځور ـ ۳۷

په کومه ټولنه کې چې بدني تمرين عمده چلول کیږي، هلته د طبیب اقتصادي وضعه بیخي نسکوره کیږي.

ځکه ورزش وايي بدن ته، ما عادت او منظم کړه، ناجوړ به نه شې کله. کله چې ناجوړ نشوې، اړ نشوې ډاکټر ته.




که چاپلوس شوې، د خیرنو پښو څټل شوې

مطلب:

هغوی چې مال، مقام او هویت په چاپلوسۍ ګټي، مړ دې شي. ځکه چاپلوسي د (ژوند زده کړه کتاب) له مخې، د نورو پښو ته کوزېدل، خیرنې پښې یا بوټان یې په ژبه لمدول او پاکول دي.

نو مال اهم نه لس روپۍ دې وي، مقام نه، په لاس دې بوټپاکي وي، خو د چا پر وړاندې سرټیټي دې نه وي.

# په دعوا کې د حریف غورځول




که توپ اچول کیږي، د لښتي واټن به کتل کیږي

مطلب:

که د چا پر وړاندې تبصــره، دعوا او مناظره ګټل غواړې، دمخه په ســکالو اګاه اوســه، توان په ځان کې خامخا نیســه، ځکه (د لښــتي که توپ اچول کیږي، د مخه فاصــله ازمایل کیږي، چې وســعت نه وي، لاندې لوېدل پېښ نه کړي) د ځان او پوهې نه پورته افرادو او پوهانو سره بحث نېول، لښــتي ته لاندې پرېوتل پېښوي.

نو که دعوا، تبصــره او منظره په خپل نام خپلول غواړې، دمخه پلان کې وړتیا وازمایه چې کولی شم، یا نه.


انځور ـ ۴۰

## کمال په عقل دی، په مجال کله دی

مطلب:

د کمال ګټلو لپاره د ډېر مجال موندلو هڅه مه کوه، بلکې هڅه وکړه چې ډېره هوښیاري پیداکړې، ځکه کم اصل ته که ډېر مجال (امکانات) هم چمتو شي، ځان به رسولی نه شي، خو فاضل ته لږ، په خپل عقل بسنه کوي.

نو د ډېر مجال جوړونکی نه، بلکې د عقل پلټونکی شه، په لږ مجال به موخه ووهې.

## که هر ځای ځې، شخصیت به ژوبلوې


انځور - ۴۱

**هغه ځای ته مه درومه، چې کې ځاییږې نه.**

**مطلب:**

**هغه ځای چې ستا له توان، خصلت او شان سره ټکر لري، له ورتګ یې ډډه وکړه، ځکه بعضې ځای ته تګ شخصیت ژوبلوي.**

**نو هغه ځای ته مه درومه، چې هلته ستا عزت، ستا خبرې اوریدل، خصلت او ستا کواره درك کیږي نه.**

## لنډ مهالې ګټې، مستقبل نه جوړه وي




انځور ـ ٤٢

چې منزل ته روانېږې، لاره کې خوارږو ته ما اودرېږه!

مطلب:

کله چې کمال پیلوې، بیا د داسې ګټو هڅه مه کوه، چې کمال ته زیان رسوي، پاتې کېږي. کله چې منزل ته ورسېدې، خوارږه به خپله ومومې. نو هغه موقتي نفې، چې ستا کمال ته زیان رسوي، ترېنه تېر شه.

## که ربړې وګالې، منزل به وګټې



انځور ـ ۴۳

**که شپه څومره توریږي، همدومره ستوري ځلا کیږي**

مطلب:

که د ژوند یا د منزل ســتونزه هر څومره اوږده ده، بعد همدومره ځلانده هم ده، ځکه شپه که څو اوږده ده، خو روڼ سبا لري.

نو ستونزې تحمل کړه، د بریا لذت به خامخا وڅاکې.

## د ځان ټاکنه، نورو ته همدا ټاکنه




نورو ته پلار شه، وسيله يې فلاح شه

مطلب:

تل لکه نورو ته پلار جوړ شــــه، هغه ډول چې پلار د خپل اولاد لپاره زيار کاږي او د کميابۍ يې وسيله وګرځي، ځکه ځانته هر څوك نفه رسـولی شـي، مګر بهتر چې خپله غواړي، نورو ته يې هم وغواړي او حصــه ورکړي، هماغه دی. عين شــان چې ته هم کولی شــې د پلار په شــان هغومره نورو ته پېشــرفت، عزت او خوشــحالي ورکړې. نو ژوند يوازې ځان لپاره مه کوه، بلکې د نورو ښيرازي د ځان زېمه وګڼه.

## که زړه مجروح شو، بیا نه راغیږي




له دیواله باسل شوی، د مېخ داغ پاتې شوی!

مطلب:

یو وار زړونه ماتول، بعد ماضي صمیمت تقاضول ، هیڅکله ویسا نه خوري. ځکه مېخ چې یو وار په دیوال ټکوهل شي، بیا ندامت له وجې وباسل شي، خو په دیوال یې داغ همعسې وي

همدغه شان چې زړه پرهر شي، که بیا عفوې ترې وشي هم، خو درد په کرار نه شي، په زړه همغسې دېره وي. نو زړه چې ټکور شوی، درد پرې ګنډل شوی.




انځور - ٤٦

ځينې وخت ځای بدلول، نېکمرغي دربښي.

مطلب:

هلته چې تحقيري چارې (لوفري، لوچکي، بد اخلاقي، نالوستي او انتهايي) ترسره کېږي، مه اوسېږه. ځان جدا کړه، ځکه دا ډول ځايونو ته همېش خطر متوجه وي، چې اثرات يې شاوخوا روغو ته هم رسيږي. نو د اوسېده لپاره هغه ترڅ وټاکه، چې شاوخوا خلك يې روڼ انده، راشيدنه او عرفانه وي. ته به هم روڼ انده، متدين او عرفان وګرځې.

## په تروږمۍ کې رڼا ځان نه ورک کوي




په توره تروږمۍ کې، روښانه کور داسې معلومیږي.

مطلب:

په بده ټولنه کې، صالحه کورنۍ داسې معلومیږي، لکه پورته عکس. ښه کورنۍ همدا خاصیت لري، نېك افعال يې لکه روڼ مشال، چې کور روښانه وي او روښانه کور فطري ده چې په نورو کې عیان پیژندل کیږي.

نو که غواړې چې ټولنه کې ځلانده، معززه او روښانه کورنۍ تعارف کړې، خپل کور اصلاح کړه، نېك افعال او نېك اخلاق ور زده کړه او بدفعالیو څخه نجات ور زده کړه.

# د سر زورۍ چارې ګټل نه لري




کمال په سر زورۍ نه ګټل کیږي

مطلب:

په کوم کار چې پوهیږې، د کولو توانه نه پورته دی، له مخکې ځینې تېر شه، ځکه ځینې چارې که په خوښه یا په زور کېدلی، هغوی چې غواړي پورته فلك او اسمانو ته شي، وختي به اوس ختلي وای، مګر هیڅکله به ونه توانیږي.

نو ځینې چارې پرته له کړاو بل څه نه درکوي، پایلې یې هم منفي وي، نو عبث وخت مه ورکوه.

## هوښيار ځان سوځوي، خو نور خوښۍ ته رسوي




تنور که خپله سوځوي، حامه ډوډۍ کمال ته بيايي.

مطلب:

هوښيار ځان د تنور په شان سوځوي ( ربړې ګالي) خو نور ته خوښي، راحتي او کميابي وربښي، ځکه خوښونکی او بريمن ژوند ځانته هر څوك رغولی، پورته حجولۍ شي، خو ممتاز انسان د ځان په شان د نورو خوشحالۍ، کميابۍ او عزت ساتۍ لپاره کار کوي، چې ان په اور ورته ګډيږي.

نو که اړتيا شوه، ځان تنور غونديې لمبه کړه يعني ربړې په ځان ومنه، خو نورو ته فايده، دفاع او بريا وګرځه.


انځور ـ ۵۰

که سل څراغه مړه دي، د يو روڼ رڼا په ټولو لګي.

مطلب:

که سـل کورونه، سـل ټولنې هم ناعلمه وي، خو چې مشـر يې عالم وي، د علميت رڼا يې سـل کورونه او ټولنې روښـانه کولی شـي، ځکه لارښـود چې کومه لار خوځوي، فطري ده چې لاندينې هماغه لار خپلوي، يا يې خواص زده کوي. نو که د مشر لار سېده خوځېده، ځان او نور به د سـاحل څخه کمياب پورې کړي او که کوږ روان و، ځان او نور چېه سـمندر کې ډوب کړي. نو د هغه کور، قوم او هيواد اختيار چې د هوښـيار عالم په واك چليږي، هيڅکله به خوار، لتاړ او وران نه شي.

## طالع مند دي، چې په خپل مامن پراته دي



انځور ـ ۵۱

له هغو خلکو هغه خلك طالع مند دي، چې نه مېشـــت په اروپا ، نه افريقا دي، په خپل مامن د يره دي.

مطلب: چې ســـر او مال ته مو بې حدا زيات خطر متوجه نه وي، بل وطن ته لا څه، بل ايالت، ولايت، قام او ګاونډ ته هم کوچېږئ مه. ځکه خپله عقېده، فرهنګ او پت په خپل هېواد ، ولايات او قام کې ښه ساتل، ترسره کېدل او پالل کيږي. بل هېواد ، ولايات او قـام تـه کوچېدل، خپلې عقېدې، فرهنګ او عزت تـه خامخا صـــدمـه رســـوي،ځکه بل ځای به حتمي بله ژبه، بله لهجه، بل فرهنګ، بل عادت او شـايد بله عقېده ولري، چې د دغه غيرې خصلتونو سره په ښنګ کې مېشت کېدل، به حتمن تاسو هم د دوی په عادتونو اموخته کېږئ، عادت کېږې او ککړېږئ.

## نا مصوري ويناوې

**علم نشاط ، ښیراز او ضرورت دی**

- بې علمه خلك كټ مټ د ړندو او كڼو خاصــيت لري، كه څه ويني يا اوري هم، بيا هم د حق او باطل ترمنځ تميز كولی نه شي.

- بې علمه ځای كې مه اوســه، بې علمه حال، مهال او مكان كې هر فساد كيدلی شي، اند د سر په زيان تمامېدلی شي.

- له ظلمونو، تورتمونو او جهلتونو څخه د راوتو يوا ينۍ لار علم دی.

- پـه علمي ډګر كې ټولې رتبې غوره دي، خو تر ټولو غوره يې معلمي او ليكوالي ده، چې نفه يې تل احيا وي.

**ډېر مه ټاکه چې نه راسېږې، که یو وټاکې، کمال به وګټې.**

مطلب:

د ځان لوړونې په موخه دومره هدفونه مه ټاکه، چې ټول له لاسه غورځوې، بلکې د یوه غوره هدف لپاره مبارز اوسه، د ډېرو هدفونو سهم به وګټې.

- د هدف لاس ته راوړلو لپاره، ډېر مجال نه، بلکې ډېر عقل وکاروه، په لږو مجالونو به هدف وګټې.

- کله چې منزل پیلوې، نو عزم داسې جزم کړه، چې لاره کې ایسار خنډونه رزم کړې، بیا به ته نایاب بزم ګټونکی وې.

- موخې ته د راسېدو لپاره یو شرط دادی، چې باید خوشحاله اوسې.

- که په هغه حکمتونو، نهادونو او ســـازمانونو کې ولوېدې یا ښکېل شوې، چې حال او تاریخ یې په فساد او جنایت ککړ وي، بیا د ښه، خوشحاله، وقاره او روښانه ژوند کولو هېله وشلوه.

- د صاف او شفاف ژوند رغولو لپاره، له نورو سره د ښه برخورد ټاکل دي. ښه برخورد د تور ژوند د سپینولو درمل دي.

- د ژوند هره لحظه توپیر موندونکي ده، یا خوښونکې یا سخته کوونکي ده.

- هغه ژوند هیڅ ارزښت، کیفیت او قابلیت نه لري، چې نورو ته سرټیټ وي.

- که غواړو خوښوونکی ژوند وکړئ، که د ډېرې هوښیارۍ لایق، قابل او څښتن هم واوسئ، ساده ګي مو د خوی حصه وټاکئ.

- د ژوند حال که ښــه بهیږي یا بد ، خو ابدي شــکل نه شــي غوره کولئ، خامخا تغیریدونکی دی، نو په هیڅ حال کې بې زغمه او مغروره نه شې.

- د داســې ژوند ټاکوونکی او خوځښــتونی شــه، چې د ځمکې پر سر دې هیڅ انسان ته سر ځوړند نه وي.

- يووالی کورونه، قومونه او هېوادونه جوړه وي.

- نايووالی کورونه، قومونه او هېوادونه ورانوي.

- د بريا ، سلامتيا او خوشحالتيا راز په يووالي کې دی.

- د کورنۍ يووالی په ګاونډ حکمراني چلوي، د ګاونډ يووالی په قام. د قام يووالی په هېواد او د هېواد يووالی په ګرد جهان حکمراني چلوي.

- هغه کور او هغه ټولنه چې د وحدت درمل کاروي، هيڅ وخت به د ناکامۍ، تخريبۍ او بې شرمۍ په رنځ اخته نه شي.

## شهکاري، طلايي او دانايي خلک

- اصـــيل خلك د (راځئ ژوند زده کړو) کتاب له مخې داســـې تعريف کيږي: اصـــيل خلك د زاڼې په څېر دي، که ځينو ټولنو، بنډو، کورنيو او خلکو ته نږدې شو، د زاڼې په شان ښکار به شي ، يا به يې ژوند مري يا به يې پت مري او که له دا ډول شـــکلونو څخه فاصـــله کې و، د هوايي زاڼې رقم به محفوظ او پتمن پاتې شي.

مطلب:

هوښـــياران، پوهان او شـــان خلك په هغه ټولنه (هېواد، ولايات، کلي، خپلوان او خلکو) کې هيڅکله ځان هويت تـه نه ورکوي (ځان نه ښـــايي) چې هلته ســـپکې چارې، ظلمې چارې، ملحدې، ناخپلواکې، شرناکې، فاحشې او په ټوليز ډول نيرنګې او غلطې چارې ترسره کيږي.

- ښه انسان د پتمنۍ، راحتۍ او کميابۍ حزانه ده.

- اصيل انسان هيڅ ګاه نه خواريږي.

- سالم خلك غچ نه، عطا اخلي.

# د هوښیارۍ کمال، مقام او لار

- علم، کمال او هوښـــیاري د چا په رنګ، طرز او خبرو کې مه لټوه، بلکې سینو او زړونو کې یې لټوه، ځکه ډېر هوښـیاران او پوهان شته، چې کواره او خبرې یې عادي، بې ډولي او ساده ګي وي، خو په اصل کې د سترې پوهې او هوښیارۍ څښتنان وي.

- د هوښیار یوه خبره، د کم اصل د سل خبرو څخه سل ځله بهتره ده.

- د دانایانو او نادانو دوستي هیڅکله پایښت نه لري.

- کم عقل د یو کمال په زده کولو خودبین کیږي، هوښـیار د سل کمال په زده کولو هم نه خودبین کیږي.

- کمال په عقل ګټل کېږي، چې عقل نه وي، په ډېرو امکاناتو هم بایللی کېږي.

- د کم عقلانو په مجلس کې، د عقلمند نشیمن (اوسېدل) داسې دي، لکه تنور کې د سکروټو سوځېدل.

- هوښیار د کم عقلانو د کم عقلۍ له وجې داسې سوځېږي لکه ګرمه سکروټه.

## موسکا د ژوند ښکلا

- څوك چې د موسـکا هنر په ځان کې نه لري، ډېر دوسـتان به نه لري.

- د ژوند پېچلو کړېـچو سره سره بیا هم موسـکا کول، ځانګړی فن غواړي.

- موسکه لرونکي خلك دوست پلټنې او موندنې ته اړتیا نه لري، بلکې موسکا یې خپله د پلټنې او موندنې وسیله ده.

- هر کس نه شي توانېدلی، چې په ځان کې د موسکا هنر وټاکي.

## د ځان پلورل

- چا چې خپل قام او هېواد وپلوره، په اصل کې هغه قام او هېواد نه دی پلورلی، بلکې ځان یې وپلوره.

- له خپل هېواد سره خیانت، له خپل ځان سره خیانت دی.

- که خپل کور دې وپلوره، حتمن به سابه ځان هم پلورې.

- په لوړ ولور د خور او لور--- واده کول، واده نه، بلکې پلورل دي.

- زلمیتوب کې ځان هدف ته نه رسول، د ښې اینده پلورل دي.

- که د بل احترام ونه کړې، خپل احترام دې وپلوره.

- که پلار ښه ژوند تېر کړ، د اولاد روزنې وسېله به وګرځي، ځکه د پلار ښه والی، د اولا په ښه والي کې اهم او مثبت رول لوبوي.

- د بچي لپاره د پلار دا ستر کار دی، چې ښه تاریخ ورته پرېږدي.

- غوره پلار هغه دی، چې خپلې کورنۍ ته په خپل وطن او خپل ولایت کې ژوند جوړ وکړي. په حقیقت کې د ښې، شکوهمندې او روڼ اندې کورنۍ ځانګړنه هم همدا ده، چې په هر وضعیت (خانۍ او غریبۍ) کې د خپلو توکم ژبو، فرهنګ او رواج خلکو سره جوښت واوسي.

- که پلار ځان حراب کړ، اولاد یې خپله حراب کړ.

-که پلار بچي ته وایي چې سګرېټ راوړه، دا په دې مانا ده، چې بچیه ته سګرېټ وڅکوه.

## د پلار ارزښت، مکلفیت او متانت

- پلار نه شــي کولی ځان د بچي له مکلفیت څخه ازاد کړي، له ماشــومتوبه تر ځوانۍ روزنه، پوهنه او څارنه، بعد تر عمره او توانه بـایـد د ژونـد په هر چوکاټ کې مرســـته، نظریه او هڅونه ورکړي.

- پلار بـه هیڅکله کورنۍ او ټولنه په معیاري، تربیتي او مترقي شکل اداره نه شي کړای، تر هغې چې ړومبۍ ځان اداره نه کړي.

- که وقاره، هوښیاره، سزاواره او تجربکار کورنۍ ترمیم کول غواړئ، بویه په کور دننه د حیثیت، غیرت، لیاقت او نصیحت روش او خبرې مروجې کړئ.

- د عزتمنې کورنۍ خواص یو دا وي، چې هلته د مېلمه مخلصانه، اخترامانه او درنده پالنه کیږي.

- له یوې ښې کورنۍ سره، یو کلی ښه کېدلی شي او د یوه ښه کلي سره، یو قام ښه کېدلی شي.

- له یوې بدې کورنۍ سره، یو کلی بد کېدلی شي او د یو بد کلي سره، یو قام بد کېدلی شي.

- که د کورنۍ حیثیت، غیرت او اصیلیت ساتنه غواړئ، د ګڼې ګوڼې یا ښارونو کې د اوسېدلو څخه ډډه وکړئ. داسې موقعیت وټاکئ، چې هلته ډېر او رنګارنګ نفوس شتون ونه لري.

- د پاچاهۍ د تخت ځملستو نه د نیستۍ په مازدیګر ځملاسته غوره دي، چې ځان او کورنۍ د ناروا مانا زنا، نشه بل بې لمانځه څخه امن وي.

- که په کورنۍ کې یو غړی بې لارې شو، د شر او فتنې نقصان یې کورنۍ، ګاونډ او خپلوانو ته هم رسیږي.

- د هغوی په هغه مال، مقام، نام او خانۍ دې اور پورې شي، چې په وجه یې د ځان او کورنۍ تربیه ( شرف ، درنښت) له پامه غورځولی.

- د کورنۍ یو ښه غړی نه شي کولی، چې د ټوله سپکه کورنۍ جامعې ته ښــه ور وپيژني. مګر د کورنۍ یو ســپك غړئ کولی شي، ټوله شریفه کورنۍ جامعې ته سپکه ور وپيژني.

مطلب:

د یوې درنې کورنۍ حال، نام او تاریخ به په ډېر ښــه وضــعیت، حالت او روانیت کې شــتون ولري، خو د یوه ســپك، بدنام او ناروا غړي له امله به تمامه کورنۍ سپکه، بې ارزښته او بدنامه نومول کیږي.

- په کور، قوم او هېواد بـانـدې د بـل یا بېګانه واکونه، هنګامې جوړه وي.

- د کورنۍ روزنـه،د غلط لارۍ څخه ژغورنه او اینده يې جوړونه، د کور د هر مشر مکلفیت ګڼل کیږي.

- د کورنۍ پتمنۍ، شکوهمندۍ او سلامتۍ ته زیات زیان هغه وخت حوادیثیږي، چې د خپلو خلکو، دوستانو او پیژندویانو سره عادتې تعلقات او مناسبات وشلول شي.

- د کورنۍ یووالی ورانول، د ناکامیو، بدنامیو او بېوزلیو زیری دی.

- د ژوند هره شیبه تغیریدونکي ده، په هر تغیر کې د کورنۍ یووالی، جوړښت او په تولیز ډول ښه والي ته جدي، نظري او ژمن اوسئ.

ددې کتاب پر بناء، ماشوم د ذهن له مخې په افکارو، افعالو او پرېکړو کې له ۱۸ کلنۍ ان ۲۰ کلنۍ څخه په ښــکته عمر کې پوره خپلواک، عرفان او تجربکار نه ګڼل کیږي.

نو دغه عمر لرونکو ته، په افعالو او پرېکړو کې جامع تسـلط مه ورکوئ.

- که ماشومان مو د بل د واک لاندې رالوی کړه، حقیقي اصیلیت به یې هیڅکله بوی نه کړی.

- د ماشــومانو عمرونه مو چې کم تر کمه شـــل کلنۍ ته نه وي راسیدلي، هیڅا ته ان نږدې دوستانو ته یې هم په هیڅ برخه کې، تعلیم پوهنه، روزن پوهنه، کسب پوهنه او ورزش پوهنه --- کې په تسلط مه ورکوئ، ځکه انسان دومره د بزرګۍ توان نه لري، چې د بل انســان اصـیلیت او صــداقت د هغه په زړه او اراده کې وپیژني، څو د واك لاندې ماشـومان په حقیقي عزت او صـداقت طور تربیه او وروزي.

- که د اولاد په تربیه هر وخت، هر حال او په هر مکان ټینګار، پام او کار ونه شي، د سالم اولاد څښتن به ونه اوسئ.

- څومره زیار چې پلار د بچي د علم لپاره کاږي، همدومره باید د تربیې لپاره هم وکاږي.

- بچي ته د ښه ژوند رغولو لپاره د پلار او کورنۍ یوازې دا مسؤلیت نه دی، چې تر لسانس او ماشټرۍ یې ورسوي او په مقام یې کښېنوي. بلکې پلار اړ او مسؤل دی، چې د علم ترڅنګ یې په حقیقي تربیه هم سمبال او د شر، فساد او ناروا کړنو څخه نجات ورکړي .

- کشران مو په سفر او قضاوت کې خپل سري مه پرېږدئ، ګني ورانې به ووینئ.

- کله چې دوست لټوې، د پېژندلو لپاره یې رنګ، لباس یا په ټولیز شکل ظهور ته مه ګوره، بلکې تاریخ او افعال یې ګوره، بیا به دوست موندلو کې ته غوره ټاکوونکی یې.

- له هغو خلکو ملګرو، کلېوالو او پېژندویانو سره هیڅکله اړېکې مه شلوه، چې په کوچنیوالي او ځوانۍ کې دې ورسره بلدیت، صحبت او شناخت درلود.

- د سپك او عزتمن دوستي هیڅکله پاینت نه لري.

رشتې کولو کې خپلوان وټاکئ، خپلوانو کې د رشتې اصل او نا اصل حتمن تاته معلومدار وي.

- د هغو پیسو ډېروالی سخت کار دی، چې په ساوتګی ګټلې شوې وې، ځکه د ساوتګی (ستومانی) پیسې اکثره کمې وي. مګر د هغو پیسو ډېروالی آسان کار دی، چې ساوتګي ونه لري، ځکه ناساتوګه پیسې اکثره د غلې او رشوت له لارې ګټل شوې وي.

- د هغه کاروبار پیسې چې په ناوړه (فاحشاوو، نشوو او نقصان مونډونکو) افعالو مصرفیږي، هیڅکله به وده او دوام ونه مومي.

- هغه استوګنځی چې په ناپاکو پیسو، په ظلم او عصب شوې ځمکه آباد شوی وي، هلته به ریښتیني خوشحالی، وقار او برکت هیڅکله وجود ونه لري، هم به جنجالونه، رنګارنګ نقصانونه، سپکې او د نسل تخریبي دوام او عام وي پکښې.

- ناصافه سرمایه (د غلې، رشوت او سود سرمایه) د کورنی حیثیت، وحدت، شوکت او محبت له منځه وړي.

- اکثر نادان او سپکان خلك ژر نه زړيږي، د هر وخت لپاره تازه پاتې وي.

- له نادانو او سپکانو سره ګډ مزل، وبه نه رسيږي تر منزل.

- د کم عقل، کم عقلۍ ته عقلمندي ويل، کم عقل کې غرور پيداکوي.

- د احمق کوچنۍ مېړانې ته، لوی لقب ورکول، احمق به يا مغروره وي يا هوښياروي.

- له نالوستانو او جاهلانو سره وخت او صحبت تېرول، يا به په ځان سپکه وړې يا به زغمه.

## جعلي درنښت

- معاصـر کې ډېر قدر هغوی ګټي چې مال، مقام او هویت لري، خو کوم قـدر؟ هغه چې یوازې ظاهري او مطلبي بڼه لري، دا قدر د (ژونـد زده کړه) کتـاب لـه مخې د اصــلي قـدر ذرې تـه هم نـه راسـېدل تعریفوي، ځکه اصـلي قدر چې د انسـان د ښـو او ښـو افغالو په ذریعا ترسره شي، بلل کیږي.

- چې مال او اقتدار لري، که بد لري او سپك، ټول عالم لري.

- چې مالل او اقتـدار نـه لري، کـه ښــه پرېمـان لري، عـالم ځینې نفرت لري.

- که چا ته د مقام په نیت احترام کوئ، دا سـتاســې په ښـکاره ناپوه ، سپکۍ او چاپلوسۍ برهان کوي.

- که (ښــه) ممتـاز، شـــفـاف، وقار او لوړ عمل نه وای، نو په یادېدلو به خوله او ژبه خوربدلی. په دې مانا همدا لحظه تجربه وکړئ، کله چې د (ښـه)لفظ یادونه کوئ، نو ژبې، شونډو او په ټولیز شکل خولې ته پام ونیسئ، وبه ازمایئ چې هیڅ خوځښت نه کوي او په خورا نرمۍ او ناستومانۍ سره ویل کیږي.

- که د ښـه شـخصـیت لرونکی وې، سـتا په ذره بدو به هم خلك اصـلاحي نقدونه کوي، خو هدف به یې سـتا سـالم شـخصـیت له تحقیرۍ، نقصانۍ او بدنامۍ څخه ژغورل وي.

- دا مه هېروئ ښـه زیار، ښـه هڅه، ښـه مبارزه او ښه اخترام هرو مرو ثمره زېږوي.

## د ورزش اړتیا ښکلا او فایده

- د ورزش فایده، بریا او سلامتیا، د پاچاهۍ په تخت کې هم نه موندل کیږي.

- ورزش د سلامتا لپاره هغه نایابه درمل دي چې له طبیب سره هم نه موندل کیږي او خپله طبیب هم اړ دی چې یاد درمل د کارېدو لپاره ومومي.

- د سلامتیا، ښکلا او هوسا مومۍ یوازینۍ درمل ورزش دی، چې مفلسۍ کې هم ترلاسه کیږي.

- ورزشکاره شخص د چاړ شوې فولادي مېخ خاصیت لري، د متانت له وجې په کلکو دیوالونو کې ننوځي.

- ناورزشکاره شخص د زنګ وهلي مېخ خاصیت لري، د زبون له وجې په نرمو دیوالونو کې هم د ننوتلو وړتیا نه لري.

- کم وزن لرونکي خلك تل بريالي وي.

- کم وزن د کم وزن لرونکو يوه بريا ده.

- کم وزن لرونکي خلك د نورو په نسبت شاد او وقاره ژوند لري.

- کم وزن لرونکي خلك صاف او شفاف وي.

- کم وزن لرونکي خلك اکثريت هوښياران وي.

- هیڅکله د چا په اتماس پورې کندلې هېله په زغرده مه تردید کوه، ممکن ستا زغرد تردید دده حیاتې هېلې اوبو وړې وګرځي.

- که څوك ځانته عذب تاکي، بی پته، ناکرار شي، بیا دې ګاوند وګړو او خپلوانو سره تعلقات وشلوي.

- که ډېره ستره، ارزښمنه او نادره توره هم ترسره کړئ، چې د ځان ښودنې ښکار شي، ارزښت به یې خپله اوبو وړی کړئ.

توره وکړه، ستاینه یې نورو ته پرېږده، هغه ډول به وستایل شې، چې خپله تا نه شو ستایلی.

- هیڅ ګاه بې برهانه قضاوتونه مه کوه، جرم یې تثبیت کړه، بیا یې تبعید کړه.

- د شـــپې پر مهال د ځیرك فون كارول، د ســـتر‌ګو لید د بایللو زیری دی، چې د عادت كوونكو په ژواك سخت ګذار دی.

كه له دې ګذاره ځان ژغورل غواړئ، د شـــپې لخوا د ځیرك فون كارول كم یا بند كړئ.

- پښـتون د ځان حریف تر ټولو نږدې دوست ګڼي، بېګانه ته هیڅ نه دی.

- كوم كار چې پوهېږئ زیان لري او بیا ترســره شــي، زیان به یې حتمي ګورئ.

- ناګهان حكمونه تباهي زیږوي.

- ځینې خلك د دومره ښـکلې کوارې ښځــتنان نه وي، خو د لوړ موقف له امله ښکلي وګرځي.

- د بد سـلوکه فرد په مقابل کې نیك سـلوك ټاکل، هغه ته د څپېړې ګذار دی.

- د هر نیم ساعت په دوام د ځیرك فون په کارولو کې لېمو ته له یوې تر درو دقیقو پورې وقفه ورکړئ او څو څو ځلې مو سترګې، خلاصې، بندې او ورغړوئ، ځکه هر څه ارامښت ته اړتیا لري. همدغه شان د سترګو لید هم ارامښت ته اړتیا لري.

- ته یې یوازې د ځان لپاره نه یې مسـؤل شـوی، بلکې د ځان په څېر د نورو مسـؤلیت هم لرې، چې تر اندازې بـاید کـار ورتـه وکړې.

- له تېر نه پند واخله، اينده ته پلان واخله او فعلاً ته جديت واخله.

- نورو ته همېش په درنه سترګه ګوره، که سپک دي يا درانه، ممکن سپك ته ستا چلند سبق وګرځي او درونـد ته لا.

- په بې ننګو، بې پتو او مرتدو کې تر ټولو بې ننګه، بې پته او مرتد فرد هغه دی، چې د خپلې مور، خور، ښځې او لور په بد فعالی اګاه وي، خو هغه پرې چوپ او هيڅ غبرګون نه ښايي.

- انسان کې دوه غوږونه، يوه خوله د مانا په لحاظ ډېر اورېدل، لږ غږېدل دي.

مطلب:

که دوه غوږونه، يوه خوله په سل سلنې چوکاټ ونغاړل شي ۶،۶۶ سلنه بايد د نورو خبرې واورېدل شي او ۳،۳۳ سلنه خپلې خبرې واورول شي.

- هیڅکله د نورو پر شخصیت استهزاء مه تاکه.

- د نورو حق او تسلط مه سلب کوه.

- د خپلو ناکامیو، مفلسیو او ناراختیو شکوه نورو ته مه بیانوه، بلکې ځانته یې بیان کړه او د حل ګودره ورته ولټوه.

- په لوظنامو کې بغاوت مه کوه.

- د داسې ژوند تاکونکی شه، چې هیڅ انسان دې سرټیټې ونه مومي.

## د شعر په شکل متلي ویناوې

**د کتاب لار**

که لارې د ژوند زده کړه په لارې
برى شوې د نايابو خلکو لارې

که د کتـاب پـه لاره وخوځېـدې، هغـه مقـام بـه وګټې، چې لږ اشخاص ورته راسیدلي دي.

دا کتاب چې لوستل کیږي
لويدلي بيا راپورته کیږي

هغه افراد چې ناکام شوي او د ژوند کولو هيله يې بايللې، که دا کتاب يې ولوست په عمل کې، ځانونه به اوچت کړي.

له ښو خلکو سره لاره
د هغوی وي لار کمیابه

څوك چې د ښو خلکو سره ناسته پاسته، تلنه او راتلنه یا په ټولیز شکل تعلق لري، تل به پت، راحت او کمیابي لري.

له بد خلکو سره لاره
د هغه وي لار ناکامه

له بدو خلکو سره وخت، صحبت، نشیمن او مصلحت خوځول، یوازې د ناکامۍ او بې شرمۍ لاس ته راوړل دي.

که ته ښه شوې
همېشه د خلکو خوښ شوې

ته په خپله ځان کې ښه شه، که نور ډېر بدان هم وي، تاته به په ښه برخورد قایل وي.

که ولوېدې بيا جګ شوې
ګټلی د منزل شوې

که د ژوند کړېږ او وړې، کمې او ناقصې، لوړې او ژورې مرحلې دې وزغملې، يا په کار او کمال کې دې غم پنډ، څنډ او خنډ صبر او حوصله کړ او دوام دې ورکړ، هرو مرو به هغه مقام وګټې چې تاته خنډ، څنډ او ناهيلی ګرځېدلی و .

غريبي پيغوري نه ده
بل ته لاس نيول پيغور ده

د غربت په طالع مه مايوسه کېږه، غربت پيغور نه ګڼل کيږي. بلکې نورو ته په سوال کولو مايوسي اختيار کړه، سوال پيغور ګڼل کيږي.

په زړه ساني
په خوله خاندي
موسکا لرونکي هنرمندان، که په زړه ځو پرهر، دردمن او مايوس هم وي، په خوله خاندې، په زړه ژاړي.

ژوند کمال دی
نن خفه سبا خوشحال دی

د ژوند هره ورځ تغیر موندونکي ده، نن به ستا په تسلط کې وي خو سبا به یې ته په تسلط کې وې. یعنې که نن ورځ آسوده، کامرانه، جماله او بې غمه ده، ممکن سبا ناکامه، ناکراره، غمککړه او مدهشه وي، چې باید دواړه حالاتونو کې احتیاط تعین شي.

یار چې یار وي
په ځان کې دریم لاس وي

ښه دوست د وجود دریم جز دی، د ژوند په سخته بېچلتیا کې داسې دی لکه د وجود سره چې نېم وجود بل وکنډل شي او قوت درکړي.

که پاکه اراده شوه
کاږه لاره سیدا شوه.

کوم کار، پلان او لار چې په تزکیه نیت پیلامه وي ، که ډېر ستونزمن ، سخت یا نه کېدونکی هم شي ، په ترسره کولو به یې خامخا توانېږې.

## ۱- نسل تبا ۲- پیسې سجدې

**اینده نسل تبا دی**

**علایق یې د خپلوانو سره مات دی**

د خپلوۍ د پرې کولو، د تعلق پیکه کولو یا د مطلبي صحبت کولو زیان یو دا دی، چې د راتلونکی نسل لپاره د اړیکو د واټن کولو باعث وګرځي او د اړیکو د واټن کولو زیان به دا وي چې کورنۍ نظم، یووالی او چوکاټ به تیت کړای شي او هم به ټولنیزې اړیکې صفر او کم حالت ته یوړل شي.

**تعظیم که په پیسو وای**

**سجدې به د بانکو وای**

که عزت، راحت او فرحت واقعي په پیسو کې وای، خانانو، پاچاهانو او مالدرانو به تر ټولو ډېر راحت، فرحت، عزت او ژوند درلود او نورو به دوی او پیسو ته سجدې کولې، خو دوی نه په تاریخ کې او نه هم اوس عزت او راحت په پیسو کې وموند او نه یې هم موندلی شي.

## چې نه يې نشتېدن
## مزل کوه منزل

کله چې منزل، هدف او سرحد ته خوځښت کوې، هیڅکله په شاه نه شې، چې یا راسېدلی نه وې او یا جامع محوا شوی نه وې.

## کوم کور چې غوسه لري
## هلته هنګامه لري

هغه کورنۍ به همېشــه په شــور ماشــور، لانجو، ویرنو، برهمو، اړودوړیو او ناکراریو اموخته وي، چې غوسې، رټل او بد الفاظ پکښې چلیږي، کارول کیږي او عادت ورکول کیږي.

## ډېر په ځان تاوان کوې
## نادان سره همراز کوې

کم عقل ته زړه راز ورکول، داسې دي لکه په لوډسپیکر کې چې د رازونه وړاندوینه کوې. په دې مانا کم عقل رازونه داســې بیانوي، لکه د لوډسپیکر ندا چې د هر چا تر غوږو رسیږي.

د هغو ژوند ناکام دی
چې د نورو په نقصان دی

هغوی چې نورو ته ازار، نقصان او بدعزمي خوښوي یا پېښوي، په اصل کې خپل ځانته ازار، نقصان او بدعزمي پېښوي او دوی به نېکمرغي تر هغې نه ځاکي، چې نورو ته د نېکمرغۍ غوښتوونکي نه وي.

که بل ته نفه رسوی نه شې
خبرو کې الحان خو ورکولی شې

که نورو ته نوره ګټه رسوی نه شې، خبرو کې خواږه الفاظ خو کارولی شې، دا د دوی لپاره نفه ده.

ایمان او غیرت چې کډه شوای
هغه تن بې نوره شوای

د عقیدې او ننګ په لحاظ چې څوک ضعیفه شوي دي، د بخت، فیض او شرف په لحاظ هم ضعیفه شوي.

د موسکا هنر چې نه لري
ډېر دوستان به نه لري

څوك چې د موســـکا هنر، طرز او عـادت پـه تن کې نـه لري، پـه اصــل کې د نورو حمایت، صـحبت او محبت ورسـره کم وي، د هغوی په نسبت چې د موسکا وړتیا لري.

- کله چې بوډا شي. هغه وخت انسان شي

ځینې ځواني په بدو، سپکو، زیانمنو او فاسدو چارو وشیندي، لکن کله چې بوډا شي، لږ څه صافه شي.

که زر ځله صافه شي
بدنام به نه ښه نام شي

بدنامي هغه بده بیماري ده چې درمل یې په آســـانه یا بیخي نه موندل کیږي او که په انســـان یو ځل ولګېده، د تداوۍ هېله ده وشلوي. نو که یوځل څوك په بد، فسـاد، رشوت، خیانت، نشـه ګر او بد عمل ککړ شو، د ځان سپینوۍ له وجې به سخت وځپل شي.

د کتاب لېکنې ( مطالب ، ويناوې ) د کتاب د لېکوال (حبيبي) پرته بل هيڅ ماخذ نه لري. هغوې چې د کتاب ويناوې د کتاب يا د لېکوال د نوم پرته نقلوي يا کاپي کوي ، په خپل نوم، بل نوم او بې نومه نوم، مجرم ګڼل کيږي.

کتاب د محترم قاضي محمد انور منګل، د ارواښاد موسی خان منګل زوی او د ارواښاد اجرخان منګل لمسي په مالي لګښت چاپ شوی، چې زه (ليکوال) يې ډېر منندوی يم.

همداشان د ګرانقدر محترم شاه ولي منګل څخه هم مننه تل يې ليکوالۍ ته هڅولی يم، عاليقدر متعال دې دوی او د دوی کورنۍ په هر حال، زمان او مکان کې همداسې کاميابه، وقاره، سرفرازه، بااتفاقه او عالم پاله لري.

حبیب الله حبیبي، د عیداخان زوی، په اصل کې د خوست ولایت د منګلو موسی خېلو ولسوالۍ د ګبر درې په **۱۳۹۴** لمریز کال کې یې د اتلس (۱۸) کلنۍ په عمر لیکوالۍ ته مخه کړه، چې تر ننه پورې یې ګڼې مقالې او څو ناچاپه کتابونه لیکلي دي.